مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حبیب الرحمن رحیمي ۲۰۲۲/۰۸/۰۱

ارغندی

د کابل کندهار اوږده لاره چې د هېواد یو له مهمو لویو لارو شمېرل کیږي ؛ له ځانګړي اقتصادي ،سیاسي او تاریخي ارزښت څخه برخمنه ده چې پلازمینه کابل د سویلي او لوېدیځو ولایتونو سره نښلوي او دا لار که څه هم د هېواد د ملاتیر ارزښت لري خو هغه مېني او سیمې چې دا لار ورڅخه تیریږي د نومونې ځانګړی شالید لري .

بلخوا زموږ د لرغوني هېواد جغرافیایي موقیعت او زیاتره سیمو سوړ اقلیم هغه څه دي چې تر ډېره ناوړه طبعي پېښې رامنځ ته کوي ،خو د وخت په تېرېدو سره تر ډېره د پېښو څرنګوالی د خلکو له یادښت څخه وتلی دی او یواځې په هغه سیمو کې یې د پېښو اړوند نومونه پاتې دي چې بېلګه یې موږ ارغندی را اخلو کومه چې دې زیاتې سړې سیمې په مانا راغلی دی .

که څه هم مو مخکې د کابل کندهار لویې لارې ته اشاره وکړه تر ډېره د سوړ اقلیم په سیمو کې تېره ده چې بېلګې یې ارغندی ،شش ګاو ِ نورک او نور دي چې موږ یې د ارغندی په نوم یو بحث لرو دا سیمه چې د پلازمینې کابل د پغمان ولسوالۍ اړونده سیمه ده ، سړه هوا لري ، غرنی جوړښت لري، له منځه یې د هېواد مهمه لاره تېره شوې ده او دې درې غوندې سیمې ته ارغنده یا ارغندی ویل کیږي .

ارغنده او ارغند هغه بسیط نوم دی چې دواړه یوه مانا لري چې د قهر او غوسې مانا لري ، دې ترڅنګ د هېواد مشهور سیند ارغند اوبه پرې نومول شوی دی ، دې ترڅنګ ارغند د نوم په بڼه هم راغلی دی همداشان د ټاټوبي مشهور کسان پرې نومول شوي دي نو له همدې مخې ارغند یوه خپلواکه کلیمه نو دلته باید (ده) باید په تکراري بڼه دویمه کلیمه وي چې تنها ارغنده کومه ځانګړې سیمې مانا نه لري ممکن دا به ده وي چې په مکمله بڼه به ارغنده ده وي چې مانا له مخې به د توندې سیمې مانا ولري خو د تاریخي پلو ده کلیمه له ارغند سره همزولې نه ښکاري او تنها ارغنده د ځای نوم نه ښکاري.

ارغندی په بڼه دا نوم یو ترکیبي جوړښت دی چې لومړی کلیمه یې ارغند او دویمه یې دی ده چې کېږدی ته ورته ترې نوم جوړ شوی دی څرنګه چې کېږدی داېښودو ځای او وړونکي خونې مانا لري موسم ته په کتو ټاکلی ځای نه لري نو له دې امله به دې ارغندی مانا هم هغه ډېر سوړ ځای وي چې د ژمي موسم سوړوالی یې تر دې اندازې زیات وي چې ژوند کول او یا له دې سیمې تېرېدل زیات ستونزمن وي خو په نورو موسمونو کې برابره هوا لري.

پر دې هم شک کیږي چې دا ترکیبي نوم د ارغندای وي څرنګه چې دا غرنی ساحه ده، اوس یې هم یوه برخه د ارغندی د کوتل په نامه یادوي نو هغه وخت چې لارو لومړنی بڼه لرله چې د خپل جوړښت له مخې یوه ستونزمنه سیمه وه ارغندای یا ستونزمنه مېنه ده خو څرنګه چې موږ دای په وروستاړي کوم نوم نه لرو نو کېدای شي چې دا ارغند ځای ،ارغندځي (پېچومی) وي مګر لنډون به یې ارغندي وي څرنګه چې د غنمو ټولولو ځای ته درمند ځای ویل کیږي ځکه چې تنها ارغنده یا ارغندي کوم ځانګړې مانا نه لري .

په پایله کې دا نوم ارغنددیه ،ارغندده ،ارغنددیه او ارغندایه چې د سختې ځمکې او ساړه اقلیم لرونکې سیمې ته چې د کابل ښار او نورو کاوندو سیمو پر نسبت په ځانګړي ډول د ژمي په څلیز کې زیاته سخته او ځورونکي سړه هوا لري .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ